هاري    نېټه    ۲۶/۱۲/۲۰۰۹

# نوې کابينه او انتقادونه

د افغانستان نومول سوې کابينې د توقع سره سم يو لړ انتقادنه او قومي اختلافات بيا رابرسېره کړل.  ښکاره خبره ده کله چي يوسياسي نظام په قومي او سيمه ايزي بې انډولۍ تورن وي، د هغه نظام هر مهم اقدام او تصميم جنجال او تاوتريخوالي راپاروي.  د حامد کرزي حکومت له خپله پيدايښته په قومي او سيمه ايزي  بې انډولۍ متهم دی چي البته تر ډېره حده حقيقت هم لري.  پدې ارتباط  د کابل حکومت تر بل هر چا ګرم  دی، خو بين المللي ټولنه، مغرض ګاونډيان، او  په هېواد کي دننه د هغوی انډيوالان هم پکي ونډه لري.

بلخوا، د قومي کوټا پر اساس حکومت جوړول تل همدا جنجالونه لري.  هر حکومت چي د ښايسته سالارۍ، استعداد، او مسلکي مهارت  پر ځای پر قومي او سيمه ايزو ملحوظاتو او کوټا باندي جوړ سوی وي، خامخا قومي او سيمه ايز تاوتريخوالي لا  ډېروي.  ځکه د کوټا پر اساس حکومت  پر لياقت او شخصيت  باندي نه وي جوړ سوي، بلکي د سازشونواو ناروا معاملو محصول وي.   ملي ضد احساسات او تمايلات پکښي ډېر وي؛ فاسد او بې کفايته وي.  د حامد کرزي اته کلن حکومت ددې خبري  ښه ثبوت دی.

د بي بي سي د عامه افکارو يوه نوې سروې وايي چي اکثره افغانان له خپلو وزيرانو ځخه کار، صداقت،  او وطن پالنه غواړي.  ددې خبري يوه مانا دا ده چي اوسنی کابينه همدا خصوصيتونه نلري، او بل داچي افغانان د نورو بني ادمانو په شان دحکومت ځخه واقعي او رښتيني غوښتني لري.

خوزما په ګومان  د کابينې اوسنی جنجال تر ډېره حده د ليډرشيپ او مشرتابه په نشتوالي او کمزورۍ کي بايد وڅېړل سي.  د ليډرشيپ مسله حياتي اهميت لري، خو له بده مرغه موږ افغانانو له ډېر وخت راهيسي همدې مهمي مسلې ته په سپکه سترګې کتلي دي.   افغاني ټولنه کي پدې ارتباط نه جدي بحث سوی دی او نه هم کېږي.  موږ تل بېځايه خوشبين يو؛ تل مو خپل سمدستي ګټې په نظر کي نيولي وي؛ او تل مو له جدي بحثه ځخه اوږه خالي کړېده.  زما عقيده دا ده چي د حامد کرزي په شتون کي د يوه سالم ليډرشيپ تمه درلودل ساده توب دی، او باور لرم چي تر څو همدا تشه ډکه نسي، د افغان ولس سياسي ستونزي نه حلېږي.

ځيني خلک په سياسي معجزې پسي ګرځي.  هغوی فکر کوي چي د ليډرشيپ مسله ګرانه ده، او اوس يې د حلولو وخت ندی؛ بل دا چي هغوی ته داموضوع څه خيالي او غير واقعي برېښي.  مګر دا خلک هم ځان غولوی او هم خپل ولس.  هغوی د خپل فکري کمزورۍ له امله د اساسي پرابلومونو  د حلولو جوګه ندي، او يايې عقل ياري نه ورسره کوي.  نو بنا، په اسانه لاره پسي ګرځي.  خو حقيقت دا دی چي په سياست کي د معجزې غوښتل د ځان اغفالول دي.

راغلو د ښاغلي حامد کرزي نوې کابينې ته.   د کابينې په جوړولو کي حامد کرزي غوښتي دي چي هم جنګسالاران اوهم  غربيان خوشحاله کړي.   د افغانانو د خوشحاله کول لپاره حامد کرزي حتی يو ګړی  هم سوچ ندی کړی، ځکه هغه يوهېري چي «لالا» څوک دی.  هغه پوهېږي چي افغان ولس بې نظمه او کمزوری دی، نو بنا د افغان ولس د خوشحاله کولو لپاره اقدام کول د هغه لپاره اني ګټه نلري.  بلخوا،  د هغه لپاره  سمدستي ګټې  د اوږدي مودې تر ګټو لمړيتوب لري. خوداسي ښکاري چي حامد کرزی په  همدې محدود هدف کی هم ناکامه  سوی دی.  ځکه نه غربيان پوره خوشحاله دي، او نه هم جنګسالاران.

بلخوا، په سياست کي د ټولو خلکو خوشحاله کول محال کار دی.  سياست د قدرت د ازمويلو  هغه ميدان دی چي مختلفي ډلي پکي مبارزه کوي.  ځيني ميدان ګټي، ځيني ايتلاف کوي، او ځيني ماته خوري. خو سالم ليډرشيپ په همداسي سختو شرايطو کي ګراني فيصلې کوي. همدا د ليډرشيپ ازموينه ده.  واقعي مشران د قدرت په محاسبه کي د ملي اهدافو خيال ساتي، نه  د دوستم، فهيم، سياف، او رهين.

د سيد مخدوم رهين بيا نومول په افغاني مطبوعاتو کي خورا ګرمه مسله ده( البته په ملي مطبوعاتو کي.)  د سيد مخدوم رهين ځېره پخوا هم ځرګنده وه.  هغه په واشنګټن کي د «اميد» په اخبار کي د ۱۹۹۰ په کلونو کي  پښتون قام


افغان جرمن آنلاين تاسو په درنښت همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ

ته داسي سپکی سپوري ويلي چي د هغه اصلي څېره او اصليت پکي ځرګندېده. پدې ناروا کمپين کې، د سيد مخدوم رهين نور ملګري فايض او سمندر غورياني ول.

په همدې لړ کی، په هند کي افغان محصلينو د لروبر په ويب پاڼه کي د سيد مخدوم رهين پر خلاف يو ليک خپورکړی دی او له ولسي جرګي څخه يي غوښتي دي چي د کرزي همدا ناشولته نومول سوي وزير ته د اعتماد رايه ورنه کړي. پدې ليک کی،افغان محصلينو په هند کي د افغان ولس پر خلاف د رهين ځينی اقدامات هم ياد کړي دي چي د هغه د شخصيت او فکر استازيتوب کوي. اوس به وګورو چي په پارلمان کي دخلکو استازي څه کوي.

بله خبره دا ده چي د يوه يا دوو وزيرانو په تغيير او تبديل باندي نه يو حکومت مشروعيت ترلاسه کولای سي، او نه هم اصلاحات راوستلای سي. زما عقيده دا ده چي د کابل حکومته د خير تمه درلول ساده توب او د وخت ضايع کول دي. يوحکومت چي په اتو کالو کي يي هيڅکله د ولس د سوکالی او ملي منافعو لپاره مثبت ګام نه وي اخيستی ، هغه حکومت د يوه او يا دوو وزيرانو په بدلولو کي هم د پام وړ کار نه سي کولای. يو متل دی چي وايي: (اوښ ته يي وويل چي غاړه دي ولي کږه ده؟ هغه په جواب کي وويل کوم ځای مي سم دی؟) والسلام.



افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ